دامیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہْ د کتاب "د نیکۍ دعوت" یو قسط

# د مور او پلار متعلق واقعات

پښتو




شیخ طریقت، امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

دا مضمون د کتاب "نیکی کی دعوت" صفحه 430 تا 447 نه اخستے شوے دے.

# د مور و پلار متعلق واقعات

**دُعائے عطّار:** یا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "**د مور و پلار متعلق واقعات**" اولولي یا ئې واوري هغه د خپل مور او پلار فرمانبردار او خدمت ګزار جوړ کړې او د مور و پلار سره ئې جنّتُ الفِردَوس ته داخل کړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د مسلمانانو څلورم خلیفه، امیرُ المُؤمِنِین حضرتِ مولائے کائنات، علیُّ المُرتضٰی، شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ فرمائي: چې کله د یو جُمات په خوا تیریږئ نو په رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې درود شریف لولئ. (فضل الصلاۃ علی النبی للقاضی الجھضمی، ص 70، رقم: 80)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مور او پلار فرمانبردار جوړ شو

په خپلو **نافرمانو** باندې د پښیمانتیا اوښکې بهیولو د پاره، د ګناهونو د بیمارو نه شِفا موندلو د پاره، خپل ځان د نیکو حِریص جوړوَلو د پاره، خپل وجود په سُنّتو ښائسته کولو دَ پاره او په خپل زړه کښې د عشقِ رسول شمع بلوَلو د پاره د **دعوتِ اسلامي** دِیني ماحول کښې هر وخت شامل اوسئ، د خپل ایمان د حفاظت دپاره فکرمند اوسئ، د لـمونځونو پابندي جاري ساتئ، په سُنّتو عمل کول جاري

ساتئ د ”**نیک اعمال**“ مطابق ژوند تیروئ او په دې باندې د استقامت حاصلولو دپاره روزانه د خپلو اعمالو د ”جائزه“ اخستلو په ذریعه د ”**نیک اعمال**“ رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے د دعوتِ اسلامي ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. او د خپل دې مَدَني مقصد چې ”**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**“ د حاصلولو د پاره هره میاشت پابندئ سره کم از کم درې ورځې د سُنَّتو تربِیَت ورکوونکې **مَدَني قافله** کښې **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ. راځئ چې ستاسو د ترغیب او تَحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلے** واوروم.

د بستي سَمُندري هیر والا (ضلع ډیره غازي خان، پنجاب، پاکستان) د یو اسلامي ورور (عمر: تقریباً20 کاله) د بیان خُلاصه ده: زه غالِباً په 2009ء کښې د مِډل د امتحان ورکولو نه پس د چوټیانو تیرولو د پاره کور ته راغلے ووم. یوه ورځ د سبزئ اخستلو د پاره را اُووَتلم نو په لاره کښې مې د عِمامو [یعني پټکو] تاجونه په سر کړي یو څو عاشقانِ رسول سره ملاقات اوشو، هغوئي په ډیره خوشحالئ او جذبه زما سره مُلاقات اوکړو او په **انفِرادي کوشش** کولو کښې ئې ما ته په داسې ښکلې انداز کښې د هفته وارې سُنّتو نه ډکې اجتماع دعوت راکړو چې ما اِنڪار اُونڪړے شو.چې کله په ټاکلې شوي وخت د سُنتو ډکې اجتماع ته د تللو د پاره د اسلامي وروڼـو خوا ته را ورسیدم نو هغوئي ډیر د نرمئ او مهربانئ په انداز کښې زه په ډیر ادب او احترام سره په ګاډي کښې کښینولم. اَلْحَمْدُلِلّٰه په ژوند کښې وړومبي ځل راته د **دعوتِ اسلامي** د سُنتو ډکه هفته واره اجتماع کښې په فیضانِ مَدِینَه جام پور (ضلع راجن پور) کښې د حاضرئ سعادت رانصیب شو. هلته ډیر خوږ نعت شریف، د سُنَّتو ډك بیان، **ذِکرُالله** او رِقَّت انګیزې [یعني ژړوونڪې] دُعا زما په ژوند کښې مَدَني اِنقِلاب راوستو. خاص طور **د دُعا په دوران کښې د خوفِ خدا په وجه زما د سترګو نه اوښکې رواني شوې**. ما د ګناهونو نه توبه اوکړه او د اجتماع نه چې بیرته راغلم نو د لـمونځونو پابندي مې شروع کړه، څه لږه موده پس مې ګیره مبارکه هم پریښوده او د عِمامے شریفې تاج مې هم په سر کړو، **زه چې ډیر بد زبانه او بے ادبه انسان ووم، خپل مور او پلار ته به مې په بے ادبئ تیزې تیزې خبرې کولې اوس د مور او پلار منونڪے او فرمانبرداره جوړ شوے**

**یم او د هغوئي لاس ښپې ښکلووم.** زما داسې د بهترئ طرف ته بدليدو باندې د کور ټول کسان بلکه د ټول خاندان خلق هم حيران وو. **دِيني ماحول** سره د تړون نه **مخکښې** زه په يوه بيمارئ کښې اخته ووم او د هغې په وجه زه ډير پريشانه ووم، **الله** پاک ما ته د هغه مرض نه هم شِفا نصيب کړه. زما نيک گُمان دے چې دا د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت بَرَکت وو. دا **مَدَني سپرلے** ئې چې اوليدو نو زما مور ما ته حکم اوکړو چې ستا وړوکي وړور ته د گُردو تکيلف دے، ته د دعوتِ اسلامي د **63 ورځو مَدَني تَربِيَتي کورس** کښې شامِل شه او د خپل وړور د شِفا د پاره دُعا کوه. ما په حکم عمل اوکړو او د **مَدَني تَربِيَتي کورس** د پاره تقريباً 2010ء کښې فَيضانِ مدينه ساهيوال ته لاړم او هلته مې پخپله هم د وړور د پاره دُعا کوله او نورو عاشقانِ رسول ته مې هم د دُعا درخواست کولو. اَلْحَمْدُلِلّٰه زما په **مَدَني تَربِيَتي کورس** کښې دوه هفتے شوې وې چې **زما د وړور طبيعت ښه کيدل شروع شو حالانکه ډاکټرانو د هغه د آپريشن وئيلي وو. چې کله دوباره چيك اپ اوشو نو ډاکټران حيران پاتي شول او اُوئې وئيل چې اوس د آپريشن ضرورت نشته.** اَلْحَمْدُلِلّٰه زما وړور بالکل صحت ياب شوے وو.

ہیں اسلامی بھائی سبھی بھائی بھائی ہے بے حد محبّت بھرا دِینی ماحول
اے بیمارِ عِصیاں تُو آجا یہاں پر گناہوں کی دیگا دوا دِینی ماحول
شِفائیں ملیں گی، بَلائیں ٹلیں گی
یقیناً ہے بَرَکت بھرا دِینی ماحول

دي اسلامي وروڼه ټول وروڼه وروڼه دے د محبتونو نه ډك دا دِيني ماحول
اے د گناهونو مريضه! راځه ته هم راشه د گناهونو به درکړي دارو دا دِيني ماحول
شِفا به اُومومئ، ختم به شي مصيبتونه يقيناً د بَرَکتونو نه ډك دے دا دِيني ماحول

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ذِکر کړے شوي مَدَني سپرلي په

## حقله د نیکۍ د دعوت مَدَني ګلونه

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیدل! د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول په بَرَکت د مور او پلار نافرمانه او ګُستاخ په سمه لار روان شو. يقيناً ډير خوش نصيبه دے هغه انسان د چا نه چې مور او پلار راضي وي. قَسم په خدائے چې! هغه کس ډير بدنصيبه دے څوك چې خپل مور او پلار د شرعي اِجازت نه بغير خفه ساتي او ولې چې نن صبا هر طرف ته د مور او پلار د نافرمانۍ او د هغوئي د زړه ازارَوَلو مَرَض عام شوے دے لِهٰذا د ذِکر شوي **مَدَني سپرلي** په حقله د مور او پلار د خوشحالولو فائدے او د هغوئي د خفه کولو د وعيدونو [يعني د عذابونو د خبرداري] په باره کښې يو څو **مَدَني ګلونه** وړاندي کيږي. د ټولو نه مخکښې د خپل ځوئ سره د مُحَبَّت لرونکي مور د دُعا اِيمان تازه کوونکے حکايت واورئ او خوشحاله شئ.

## د مور په دُعا ځوئ ته کلمه نصيب شوه

د يو ډاکټر بيان دے چې: په يو کس د زړه سخته دوره راغله، د ياتي کيدو څه اُمِّيد ئي نه وو، د هغه مور د کټ خوا ته ناسته وه او دُعا ئي کوله [دا دُعا] حاضرو کسانو هم واوريدله چې: "**يا الله پاکه** زه د خپل ځوئ نه راضي يم ته هم ترينه راضي شې." ډاکټران په علاج کښې مشغول وو او **مُحتَرمه** په دُعا کښې مشغوله وه، کله چې آخِري وخت راغے، مريض په **اوچت آواز کَلِمه** اولوستله، په شونډو ئي مُسکا خوره شوه او ساه ئي اوختله.

## د مرګ په وخت کَلِمه وئيونکے جَنَّتي دے.

سُبْحٰنَ الله! د کوم مُسلمان مور چې د هغه د ژوند په آخِري وخت کښې د هغه نه خوشحاله وي د هغه څه ښکُلے شان وي! او چا ته چې په آخِري وخت کښې ګَلِمه نصيب شي قَسَم په خدائے! هغه ډير خوش نصيبه دے. چنانچه د **الله** پاک د **محبوب** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: مَنْ كَانَ آخِرُ كَلَامِهٖ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ يعني د چا چې آخِري کلام لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وي هغه به جَنَّت ته داخِليږي. (ابوداؤد ج3 ص255 حديث 3116)

# د كَلِمه لوستونكي حكايت

**فرمانِ مُصطفٰى** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: مَلَكُ المَوت (عَلَيْهِ السَّلَام) د يو مړكيدونكي كس خوا ته راغلو او د هغه زړه ئې اوكتلو خو څه عملِ خير (يعني ښه عمل) ئې پكښې اُو نه موندو، بيا ئې د هغه [د خُلې] جامني بيرته كړلې نو د ژبې ډډه ئې د تالو سره لګيدلې اُوليدله او هغه لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وئيله نو د هغې كَلِمے په وجه د هغه بخښنه اوكړے شوه. (المُحْتَضِرين مع موسوعةُ الامام ابن ابي الدنيا ج5 ص304 رقم 9)

جب دَمِ واپَسیں ہو یا اللہ — لب پہ ہو لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللہ
ہیں محمد مرے رسولِ خدا — مرحبا مرحبا رسولُ اللہ

چې ساه مې كله خيژي **يا الله** — چې په ژبه مې وي لَآاِلٰـهَ اِلَّااللّٰه
دے مُحَمَّد زما آقا رسولِ خُدا — مَرحَبا مَرحبا يـا رسولَ اللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د قبول شوي حَج ثواب

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! يقيناً د مور او پلار دَرَجه ډيره اوچته ده، د هغوئې دُعاګانې د اولاد په حق كښې قبليږي، بس هغوئې خوشحاله ساتئ، د هغوئې ښه خِدمت كوئ او د هغوئې دُعاګانې اَخلئ، د هغوئې خوشحالي د اِيمان د سلامتئ او د هغوئې ناراضګي د ايمان د بربادئ سَبَب جوړيدے شي. د **مور او پلار** فرمان برداره هميشه خوشحاله، ښاد او آباد اوسي، په دُنيا كښې چې كوم ځائے هم وي د مور او پلار د دُعاګانو بَرَكت ورسره ملګرے وي. د **دَعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَكْتَبَةُ الْمَدِينه** چاپ شوي د 34 صفحو رسالے "سَمندري ګُنبد" [پښتو] په صفحه 6 او 7 كښې دي: په ډيره همدردئ او مينه مَحَبَّت د **مور او پلار** ديدار كوئ، **مور او پلار** ته د رَحمَت په نظر د كتلو به څه وائې! د **سركارِ مَدينه** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ رحمت نشان دے: چې كله اولاد د خپل مور او پلار طرف ته د رَحمَت په نظر اُوګوري نو **الله** پاک د هغه د پاره د هر نظر په بدله كښې د **حَجِّ مَبرُور** (يعني د قبُول شوي حَج) ثواب ليكي. صحابۂ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان عرض اوكړو: اګركه په ورځ كښې **سل ځله** نظر اوكړي! اوئې فرمائيل: نَعَمْ، اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَاَطْيَبُ يعني "آو، **الله** پاک د ټولو

نه لوئے دے او اَطْيَبْ (يعني د ټولو نه زيات پاك) دے." (شُعَبُ الایمان ج6 ص186 حدیث 7856)

يقيناً **الله** پاک په هر څيز قادِر دے، هغه چې څومره غواړي ورکولے شي، بالکل هيڅ عاجِز نه دے لِهٰذا که څوك خپل مور او پلار ته هره ورځ سل ځله څه، که زر ځله هم د **رَحمت** په نظر اُوګوري نو هغه **[الله]** به هغه ته د زرو مقبولو [يعني قبول شوو] حجونو ثواب عِنايت کړي.

مشغول جو رہتا ہے، ماں باپ کی خدمت میں — اللہ کی رحمت سے، جاتا ہے وہ جنّت میں
ماں باپ کو ایذا جو، دیتا ہے شرارت سے — جاتا ہے وہ دوزخ میں، اعمال کی شامت سے

مشغول چې څوك اوسيږي د مور او پلار خدمت کښې — د الله په رحمَت به، داخِل شي په جَنَّت کښې
چې خفه کوي څوك مور و پلار په شرارت خپل — ځي به دوزخ ته د اعمالو په شامَت خپل

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! — صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د مور يواځې پريښودونکي کس عِبرتناك مرګ

د **يو** کس مور ډيره سخته بيماره او د مرګ په کټ پرته وه، د دې باوجود نالائقه ځوئ د هغې سره داسې بد سلوك اوکړو چې هغه بے وَسه ئي يواځې پريښوده، غريبه په دې حالت کښې وفات شوه، وخت تيريدو. ديرش کاله پس په هغه "نالائقه ځوئ" دستونه اُولګيدل او ډير کمزورے شو. د خپلو کړو سزا داسې ورکړے شوه چې په ژړا ژړا به ئي وئيل: "زما درې ځامن دي خو زما هيڅ پرواه نه کوي، زه د ډيرو ورځو نه بيمار پروت يم خو يو ځل مې هم خوا ته نه دي راغلي." آخِر دا چې هغه هم د خپلې مور په شان د شپې يواځې مړ شو. سحر د چم ګاونډ والؤ اوليدو چې يواځې مړ پروت وو، او ميږي پرې راټول شوي وو.

دل دُکھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا — ورنہ ہے اِس میں خسارہ آپ کا
(وسائلِ بخشش ص٦٦٨)

زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل — ګنې شئ به نقصاني بيا په دې کار خپل

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!      صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! دا حقيقت دے چې د مور او پلار زړه ازاروونکي په دې دُنيا کښې هم سزا مومي. **فرمانِ مُصطفٰی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: د ټولو ګناهونو سزا که **الله** پاک اُوغواړي نو قِيامَت ته به ئې پريږدي، خو د مور او پلار د نافرمانۍ سزا په ژوند وررَسَوي. (اَلْمُسْتَدرَك لِلْحاكِم ج5 ص216 حديث 7345)

واقعي هُغه کس ډير خوش نصيبه دے څوك چې مور او پلار خوشحاله ساتي، څوك بدنصيبه چې مور او پلار خفه کوي د هغه د پاره بربادي ده. **الله** پاک په پينځلَسمه سيپاره **سُوْرَةُ بَنِیْۤ اِسْرَآءِیْل** آيت نمبر 23، 24، 25 کښې ارشاد فرمائي:

وَ بِالْوَالِدَیْنِ اِحْسَانًا ؕ اِمَّا یَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ اَحَدُهُمَاۤ اَوْ كِلٰهُمَا فَلَا تَقُلْ لَّهُمَاۤ اُفٍّ وَّ لَا تَنْهَرْهُمَا وَ قُلْ لَّهُمَا قَوْلًا كَرِیْمًا ﴿۲۳﴾ وَ اخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَ قُلْ رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّیٰنِیْ صَغِیْرًا ﴿۲۴﴾ رَبُّكُمْ اَعْلَمُ بِمَا فِیْ نُفُوْسِكُمْ ؕ

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مور پلار سره ښه سلوك کوئ. که ستا په وړاندې د هغوئي نه يو يا دواړه بوډاوالي ته اورسي نو هغوئي ته اُف هُم مه وايه او هغوئي مه رټه او هغوئي سره ښکلې، نرمې خبرې کوه او د هغوئي د پاره د زړه په نرمۍ سره د عاجزۍ مټ خور کړه او دُعا کوه چې اے زما رَبه! ته په هغوئي دواړو رحم اوفرمائے څنګه چې زه هغوئي دواړو په ماشوم والي کښې ساتلے ووم ستاسو **رب** ته ښه معلوم دي څه چې ستاسو په زړونو کښې دي.

## په وړوکوالي کښې مور هم د خپل اولاد ګندګي برداشت کوي.

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! په پاس آياتِ کريمه کښې **الله** پاک د مور او پلار سره د ښه سلوك

کولو حکم ورکړے دے او خاص طور د هغوئي په بوډاوالي کښې ئې د زيات خدمت کولو تاکيد فرمائيلے دے. يقيناً د مور او پلار بوډاوالے انسان په اِمتحان کښې اچوي، کله کله په سخت بوډاوالي کښې اکثر په کټ کښې د بَول و بَراز (يعني د ورړو او غټو بَولو) ترکيب کيږي، او د هغې په وجه عام طور اولاد ډير تنګ شي. خو ياد ساتئ! په داسې حالاتو کښې هم د مور او پلار خدمت لازمي دے. په وړوکوالي کښې خو مور هم د ماشوم ګندګي برداشت کوي. که د بوډاوالي او بيمارو په وجه مور او پلار هر څومره بدمِزاجه شي، يا ئې فِکر کار پريږدي، يا بے وجه جنګ کوي، که هر څومره جَګړې درسره کوي، چې څومره مو خفه کړي، بس **صبر، صبر** او **صبر** کول او د هغوئي تعظيم کول ضروري دي. د هغوئي سره بدسُلوکي او بے ادبي کول، او هغوئي رټل وغيره خو ډيره غټه خبره ده بلکه د هغوئي په مخکښې "اُف" هم نه دي کول پکار. ګني موقع مو د لاسه وتلے شي او د دواړه جهانو تباهي مو مُقَدَّر جوړيدے شي ځکه چې د مور او پلار زړه ازارونکے په دې دُنيا کښې هم ذليله او خوار شي او په آخِرت کښې هم د وور د عذاب حقدار دے.

دل دُکھانا چھوڑ دیں ماں باپ کا    ورنہ اس میں ہے خسارہ آپ کا (وسائل بخشش 377)

زړونه مه ازاروئ د مور او پلار خپل    ګني شئ به نقصاني بيا په دې کار خپل

## په ځنکدن کښې خوفناکې چغې وهونکے ځلمے

د **يو** ځلمي ګُردے فيل شوې، په هسپتال کښې داخل کړے شو، حالت ئې ډير زيات خراب وو، د ځنکدن (يعني د ساه ختلو عمل) ئې شروع شو. د هغه د خُلې او پوزې نه دردناك آوازونه وتل، مخ به ئې شِين شو او سترګې به ئې بهر را اُو وتلې، په دې حالت کښې دوه ورځې تيرې شوې. هغه دردناك آوازونه په خوفناکو چغو کښې بدل شو، د هغه وارډ (WARD) مريضان تښتيدل شروع شو، لِهٰذا هغه ئې د وارډ نه لرې يوې کوټې ته بدل کړو، د هغه پلار ډاکټر ته اُووئيل چې: دا ته د زَهرو ستن اُووهه چې دے مَړ شي مونږه د ده دې حالت ته کتل نه شو برداشت کولے. چې کله تپوس اوکړے شو چې آخِر د ده دا عجيبه او حيرانوونکے حالت وَلې دے؟ نو پلار ئې په خفګان اُووئيل: دې کس به د

خپلې ښځې د خوشحالولو د پاره خپله مور وهله او ما به دے منع کولو، داسې معلوميږي چې اوس ورته د هغې سزا ورکوله شي! درې ورځې د ځنکدن په سخت تڪليفونو کښې د اخته کيدو نه پس د هغه ساه اُوختله.

## مور ته جواب نه ورکوونکے ګونګے شو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! مونږ د **اللّٰهُ** تَوَّاب په بارګاه کښې توبه اوباسو او د هغه نه د خير سوال کوو. آه! د مور او پلار زړه ازارَول خومره د رُسوائي او د درد ناك عذاب باعِث دي. د مور او پلار ډير خيال کول پڪار دي چې کله مو اُوبلي نو ټول کارونه پريښودل او جي موري، جي پلاره وئيل او د هغوئي په خدمت کښې حاضريدل پڪار دي، منقول دي چې: يو کس ته د هغه مور غږ اوکړو خو هغه جواب ورنڪړو په دې وجه د هغه مور هغه ته ښيرې اوکړې نو هغه **ګونګے** شو. (بِرُّالْوالِدَين لِلطَّرْطُوْشِي ص79)

## د مور او پلار د نافرمانه عبادتونه نه قبليږي

د خپل پلار د نافرمانه په باره کښې د شوي يو سوال په جواب کښې **اعلٰی حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د پلار نافرماني د **اللّٰه** جَبَّار وقَهَّار نافرماني ده او د پلار ناراضي د **اللّٰهُ** جَبَّار و قَهَّار ناراضي ده، که بنده مور او پلار راضي کړي نو هغوئي د هغه **جَنَّت** دي او که ناراضه ئې کړي نو هم هغوئي د هغه **دوزخ** دي. تر څو ئې چې پلار نه وي راضي کړے، [تر هغې] د هغه يو فرض، نفل او هيڅ نيك عمل اصلاً (يعني د سره) قبول نه دے، د عذابِ آخِرت نه علاوه په دُنيا کښې به پرې په ژونديني سخت آفت نازليږي، او د دې خبرې ويره ده چې د مرګ په وخت کښې به ورته مَعَاذَاللّٰه **کَلِمه** نه نصيب کيږي. (فتاوٰی رضویه ج24 ص385384)

## د خر په شان مړ انسان

حضرت سَيِّدُنا عَوَّام بن حَوشَب رحمۃ اللہ علیہ (چې تبع تابعي بُزُرګ تير شوے دے او په 148 ھ کښې وفات شوے دے) فرمائي: زه يو ځل په يوه مَحَلّه تيريدم، د هغې غاړې ته اِديره [يعني مقبره] وه، د مازديګر نه پس يو **قبر** اُوشليدو او د هغې نه يو داسې سړے را اُووَتو چې **سر ئې د خر په شان او باقي**

**بدن ئې د انسان وو،** هغه درېٖ ځله د خر په شان اُوهَنګيدو [يعني اُوهنـيدو]، بيا قبر ته ننوتو او قبر بند شو. يوه بوډۍ ښځه ناسته وه او وړۍ ئې ځنډـله، يوې زنانه ما ته اُووئيل: دا بوډۍ ښځه وينۍ؟ ما اُووئيل: ولې د دې څه مُعامَله ده؟ هغې اُووئيل: دا د دغه قبر والا کس مور ده، هغه شرابي وو،کله به چې ماښام کور ته راغـے نو مور به ورته نصيحت کولو چې اے ځويه! د **الله** پاک نه اُويَرېږه، آخِر د څو پورې به دا ناپاکه څيز [يعني شراب] څښې! هغه به جواب ورکړو چې: ته هسې د **خر** په شان هنګيږې [يعني هنـيږې]. دا کس د مازديګر نه پس مړ شو، چې د کله نه مړ شوے دے هره ورځ د مازديګر نه پس ئې قبر شليږي او دغسې درېٖ ځله د **خر** په شان هنګيږي [يعني هنـيږې] او بيا قبرته کوز شي او قبر بند شي. (اَلتَّرغِيب وَالتَّرهِيب للمُنذري ج3 ص267 حديث3833)

دل نہ تُوماں باپ کا ہر گز دُکھا    ہو کہیں نہ خاتِمہ تیرا بُرا

زړه مه د مور او پلار خفه کوه    چرې نه شي خاتِمه خرابه ستا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب!    صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د مور ګستاخه زمکې ژوندے راښکلو!

په **يو** کلي کښې د يو زميندار په کور کښې به د خواښې او هِنګور په مينځ کښې هر وخت جنګ وو، څو ځله د زميندار ښځه خفه شوه او د مور کره لاړه، هغه به په سوال زارو بيرته راوستله. آخر دا چې ښځې زميندار ته اُووئيل چې اوس به په دې کور کښې يا زه اوسيږم او يا به دې پکښې مور اوسيږي. زميندار په خپله ښځه مَئِن وو، هغه نادان په زړه کښې دا فيصله اوکړه چې دَ هرې ورځې دَ جَګړو حل دا دے چې مور دَ لارې نه لرې کړم. چنانچه يوه ورځ ئې په څه بهانه مور ځان سره د ګنو پټې ته بوتله، ګنې ئې ريبل چې څنګه ئې موقع اُوموندله مور ته ئې مخ را وګرځوو او چې څنګه ئې پرې د ګُزار کولو د پاره تبرګے پورته کړو نو يو دَم زمکې د ښپو نه راښکلو، تبرګے ئې د لاسه خلاص شو او لرې غوزار شو، مور ئې اُويَريدله او په چغو چغو کلي طرف ته وتښتيدله .زمکې په قلاره قلاره زميندار راښکل شروع کړو، هغه اُويَريدو او په چغو چغو مور ته په نعرو شو او مُعافي ئې غوښتله خو

مور ئې ډیره لرې تلې وه، لږ ساعت پس چې خلق هلته را ورسیدل نو هغه د سینې پورې خخ شوے وو، خلقو د هغه د راویستلو ناکامه کوشش اوکړو خو زمکې هغه رانښکلو تر دې چې په زمکه کښې پټ شو.

جہاں میں ہیں عبرت کے ہر سُو نمونے مگر تجھ کو اندھا کیا رنگ و بُو نے
کبھی غور سے بھی یہ دیکھا ہے تُو نے جو آباد تھے وہ محل اب ہیں سُونے
جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

په جهان کښې هر طرف ته نمونے دي د عبرت خو ته ړوند کړې د دنیا فاني دولت
محلونه چې ښخوا وو کوم آباد غور اوکړه ټول پراته دي اوس برباد
دا دنیا د زړه لګولو ځائے نه دے ځائے د عِبرت دے د تماشو ځائے نه دے

## توبه! توبه!!

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! توبه! توبه!! اُویَریږئ!!! او که مور او پلار مو ناراضه کړي وي نو زر زر ورته په ښپو پریوځئ او مُعافي ترینه اُوغواړئ، دا خو د دُنیا سزا وه چې هغه نافرمانه نادان زمیندار ته ورکړے شوه که هغه زمیندار مُسلمان وو نو مونږ د خُدائے رحمٰن نه د هغه د پاره د رحم او کرم دُعا کوو. چې د دُنیا سزا څوك نه شي برداشت کولے نو د آخِرت سزا به څنګه برداشت کړے شي! قَسم په خدائے! د مور او پلار نافرمانو ته چې به د مرګ نه پس کومه سزا ورکولے شي هغه به د دُنیا د سزا په مُقابَله کښې په کروړونو کروړونو زیاته خوفناکه وي. چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَکْتَبَةُ الْمَدِینه** چاپ شوې د 32 صفحو د رسالے "سَمندری گُنبد" [پښتو] د صفحه 21 او 22 نه درې روایتونه ملاحظه کړئ:

## د وور خاخونو ته زوړند خلق

حضرت سَیِّدُنا امام احمد بن **حَجَر مَکّی شافِعي** رحمۃُ اللہِ علیہ نقل کوي: د **سَرورِ کائنات** صلَّی اللہُ علیہِ والہٖ وسلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: د **مِعراج** په شپه ما بعضې خلق اولیدل چې هغوئي د **وور خاخونو ته زوړند** وو ما تپوس اوکړو: اے **جبریل!** دا خلق څوك دي؟ عرض ئې اوکړو: اَلَّذِیۡنَ یَشۡتُمُوۡنَ اٰبَاءَهُمۡ وَاُمَّهَاتِهِمۡ فِی الدُّنۡیَا یعني **دا هغه خلق دے کومو به چې په دُنیا کښې خپلو پلارونو او میندو [موریانو] ته بدې ردې وئیلې.** (اَلزَّوَاجِرعَنِ اقۡتِرَافِ الۡکَبائِر ج2 ص139)

## د باران د خاڅکو هُمره سکروټې

**منقول دي:** چا چې خپل مور او پلار ته کنزلې اوکړې د هغه په **قبر** کښې د وور دومره **سکروټې** راکوزیږي څومره چې (د باران) څاڅکي د آسمان نه زمکې ته راکوزیږي. (ایضاً ص140)

## قبر پوښتئ ماتوي

**منقول دي:** کله چې د مور او پلار نافرمانه خخ کړے شي نو قبر هغه زور کوي تر دې چې د هغه پوښتئ (داسې ماتې شي چې) په یو بل کښې ننوځي. (ایضاً ص140)

## مور او پلار ته په ښپو پریوځئ او مُعافي ترینه اُوغواړئ

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! که ستاسو **مور او پلار** دواړه یا په هغوئي کښې یو ناراضه وي نو فوراً ورته لاس جوړه کړئ، په ښپو ورته پریوځئ او په ژړا ژړا ترینه مُعافئ اُوغواړئ. د هغوئي جائزې مُطالَبے پوره کړئ او د **الله** پاک په بارګاه کښې هم په ډیره زارئ او په ژړا ژړا توبه اوکړئ څکه چې هم په دې کښې مو د دواړو جهانو خیر دے. د مور او پلار د حقونو په باره کښې د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره یوه ویډیو (1) "ماں باپ کے حقوق" او بله (2) د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك (1430ھ) په اِعتِکافِ کښې د "والدین کے نافرمانوں کا انجام" په عُنوان د شوې "**مَدَني مذاکرے**" ویډیو اُوګورئ.

## د مور په ښیرو ئې ښپه کټ شوه

**واقعي** د مور او پلار حقونه پوره کول ډیر ګران کار دے، د دې د پاره ټول عُمر کوشش کول پکار دي او د **مور او پلار** د ناراضګئ نه همیشه ځان ساتل پکار دي. کوم خلق چې **مور او پلار** خَفه کوي د

هغوئي په دُنيا کښې هم ډير خوفناك اَنجام کيږي چنانچه حضرت عَلّامه کمالُ الدِّين دَميري رحمۃُاللہِ علیہ نقل کوي: زَمَخشَري (چې د مُعتزِله فِرقے مشهور عالِم تير شوے دے) يوه ښپه کټ شوې وه. خلقو ترينه تپوس اوکړو چې دا ولې؟ هغه اُووئيل چې دا زما د مور د ښيرو نتيجه ده، قِصَّه داسې ده چې ما په وړوکوالي کښې يوه **مَرغئ** نِيوَلې وه او د هغې په ښپه کښې مې تار اچولے وو، اِتِّفَاقاً هغه زما د لاس نه خَلاصه شوه او لاړه د يو ديوال په سُوري کښې ننوتله، خو تار ترينه بَهَر رازوړند شوے وو، ما تار اُونيوو او په بے رحمئ سره مې راښکلو، **مَرغئ** په پړيقو پړيقو بَهَر ته را اُووَتله، خو د عاجزې **ښپه** په تار کټ شوې وه، زما **مور** چې دا درد ناکه نظاره اُوليدله نو سخته خفه شوه او د خُلې نه ئې را ته دا **ښيره** اُووَتله: چې خُنګه تا د دې بے ژبانه مرغئ ښپه کټ کړه [دغسې دې] **الله** پاک ستا ښپه هم کټ کړي. خبره اُوشوه او تيره شوه، څه موده پس دَعِلم حاصِلَولو د پاره ما د ''بُخارا'' سفر اِختيار کړو، په لاره کښې د سورلئ نه اوغورزيدم، **ښپه** مې سخته زخمي شوه، ''بُخارا'' ته چې اُورسيدم نو ډير عِلاج مې اوکړو خو تکليف ختم نه شو آخِر دا چې **ښپه مې کټ کړے شوه.** (او دا د مور د ښيرو نتيجه وه) (حَيَاةُالحيوان الکُبرٰی ج2 ص163)

## د مور او پلار د مَحَبَّت په اولاد باندې طِبِّي اثرات

د **مور او پلار** د اَهَمِيت نه څوك نه دے خبر، اِسلام مونږ ته د مور او پلار د خوشحاله ساتلو او د هغوئي د ناراضئ نه د ځان ساتلو حکم راکړے دے يَقِيناً په دې کښې زمونږ د دُنيا او د آخِرت بيشميره خيرونه دي. غير مُسلِمه سائنسدانانو هم د مور او پلار په حقله ډير عجيبه او حيرانونکي تحقيقات کړي دي. چنانچه د ډاکټر نِکَلسَن ډَيوِس (DR.NICHOLSON DEVIS) او پروفيسر مِسلَن کيم (PROF. MISLON CAM) د رپورټ خلاصه ده چې. مور او پلار چې څومره زړيږي هغه هُمره د هغوئي د اولاد سره مَحَبَّت زياتيږي او د دې مُحَبَّت په وجه د مور او پلار په سترګو کښې د رڼا يو مخصوص شکل پيدا کيږي چې هغه د اولاد په حق کښې د صحت سَبَب جوړيږي! مور او پلار که زرګاؤ مِيله لرې وي (خو چې د اولاد نه خوشحاله وي نو) د هغوئي د همدردئ او د نيکو خواهشاتو په ذريعه د غير مرئي (يعني د نه ښکاره کيدونکو) شُعاګانو سلسله اولاد ته رسيږي، که مور او پلار بيمار وي نو بيا هم د هغوئي غير مرئي شُعاګاني نه کمزورې کيږي بلکه د هغې طاقت مسلسل زياتيږي. که

مور او پلار نزدې وي نو د هغوئي د مُحَبّتونو نه ډك غير مرئي شُعاګاني د اولاد بدن او اعصابو (يعني هغه نري سپين رګونه چې د دماغو او حرام مَغزو نه اُوځي او په ټول بدن کښې خوريږي هغې) ته قُوَّت رَسوي او هغه ملائِم، نرم او پاسته ساتي. [د اولاد بدن ته] د مور او پلار لاس لګيدل نَفسياتي بيمارئ او ذِهني پريشانئ لرې كوي. يو سائنسدان د خپلې تجربے بيان داسې ليکي: ”زه چې کله هم خپلې مور ته د مُحَبَّت په نظر ګورم نو زه په خپل بدن کښې سُکون محسوسووم.“ خير دا خو د غيرمُسلمو تحقيقات دي، مونږ ته د دُنياوي فائِدو د پاره نه بلکه د **الله** پاک او د هغه د **رسول** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په احکاماتو باندې د عمل کولو په نِيَّت د مور او پلار تابعداري کول پکار دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه مُسلمان خو بيا هم د خپل مور او پلار خدمت كوي په غير مُسلمو كښې خو د زړو مور او پلار ډيره بے قدري كيږي، په دې خبره د دې واقعې نه د ځان پوهه كولو كوشش اوكړئ:

## اُولډ هاؤس او يوه بے اسره بوډئ

د **انګليند** په يو اخبار کښې څه داسې عجيبه قِصّه ليکلې شوې وه چې، د يوې مور صرف يوې لُور ”مَيري“ MARY نه علاوه نور هيڅ اولاد نه وو، ”مَيري“ چې کله پيغله شوه نو مور د يو مالدار او په خپله معاشره کښې مُعَزَّز ځلمي سره د هغې واده اوکړو او بخپله ئې هم د هغوئي سره اوسيدل اختيار کړل. د هغوئي يوه ښکلې لور پيدا شوه. د هغې نوم **اِلـزبتھ** (ELIZABETH) کيښودے شو، نيا ته لکه چې د لوبو يوه ګوډئ په لاس ورغله، نمسئ **اِلِـزبتُھ** د هغې سره ډيره عادت شوه. وخت تيريدو تيريدو، يو طرف ته **اِلـزبتھ** لوئيدله او بل طرف ته ئې نيا بوډئ والي طرف ته روانه وه. چې كله ورکوکې **اِلِـزبتُھ** دومره لويه شوه چې جامے ئې بخپله بدلولے شوې نو ”مَيرى“ دا سوچ اوكړو چې مور مې نوره ډيره بوډئ شوې ده، ميلمانه وغيره هُم راځي او په هغوئي کښې دا ښه نه ښکاري، لِهٰذا هغې مور د بوډاګانو په خصوصي كور يعني اُولډ هاؤس (OLD HOUSE) کښې داخله كړه، مور ئې ډير شور فرياد اوكړو او په كور كښې ئې د خپل ضرورت احساس هُم وركړو او د نَمسئ **اِلِـزبتُھ** د ساتلو عذر ئې هم ورته وړاندې کړو، خو چا ئې يوه خبره هم اُو نه منله. **اِلـزبتھ** د نيا سره ډيره مينه كوله، هغې هم د نيا ډيره مرَسته اوكړه خو د هغې هم چا اُو نه منله. ”مَيرى“ ورته بهانے وغيره كولې چې كور ډير تنګ دے، ته بے فكره اوسه، مونږ به كله كله اُولډ هاؤس ته د مُلاقات د پاره درځو او د خيالي او اتوار په ورځ به

دې كور ته هم راوَلو، او وَلې اُولډ هاؤس ته د تلَلو په وجه ګڼې خپلولي ختميږي څه! په شروع شروع كښې ''مَيرى'' د مور سره مُلاقاتونه هم اوكړل خو رو رو د هغوئي په مينځ كښې جُدائي زياتيدله. او آخِر دا چې اِنتِظار كول د بوډۍ تقدير جوړ شو. هغې به د مُحَبَّت نه ډك اُوګده اُوګده خطونه تيارول، نمسۍ اِلِزبتهه ته به ئې پكښې د مينې ډكې خبرې هُم ليكلې خو څه خاص اثر ئې اونكړو. يو ځل ورته لُور په خط كښې ليكلي وو چې په دا ځل د كِرسمس (CHRISTMAS) نه يوه شپه مخكښې به په تا پسې درځم او كور ته به دې راولم. بوډۍ ډيره زياته خوشحاله شوه، هغې د خپلې خوربې نمسۍ د پاره د ورۍ (WOOL) بنين وغيره جوړ كړو چې دا به هغې ته په تُحفه كښې وركووم. د 24 دِسمبر په شپه ډيرې سختې واورې وريدلې خو ولې چې نن به ''مَيرى'' په هغې پسې د بوتلو د پاره راځي، څكه هغې خپله د ''محبت نه ډكه تُحفه'' په لاس كښې نيولې د لُور په انتظار كښې د بلډنګ په ګيلرۍ كښې ناسته ده او په ډيره بيقرارۍ سره په سړك تيريدونكې هر يو ګاډي ته په غور ګوري، چې ګوَره د ''مَيرى'' ګاډے به كله رارسي! د اُولډ هاؤس د يوې نوكرې جينۍ ''نَينسي'' (NENSI) د بوډۍ د بيقرارۍ په وجه په هغې ډير سخت زړه خوګيدو هغې ورته د هِيټر والا كوټې ته د تللو هم ډير اُووئيل خو بوډۍ اُو نه منله. نَينسي ورله يو ګرم شال راوړو او په هغې ئې واچولو او د همدردۍ په وجه ئې ورته څو څو ځله تود تود چائے ورانډې كړو، بوډۍ په ډيره سخته يخنۍ كښې په رپيدو رپيدو ټوله شپه په انتظار په شوګيره كښې تيره كړه خو لور ئې نه راتله اَو نه راغله. د سختې يخنۍ په وجه د بوډۍ سخته نمونيا شوه، دا [بيماري] د يخنۍ كيدو په وجه د ټُوخي پيدا كيدو او د مرۍ د خرابيدو په وجه پيدا كيږي، په دې [بيمارۍ] كښې د سګې [يعني پهيپهړو] په بعضې حصَّه كښې پړسوب پيدا شي او د هغې په وجه هغه ځائے ته هوا نه رسي او مريض ته په ساه اخستو كښې سخت تكليف وي، او د هغه درجهٔ حرارت (**يعني تبه**) 105 ډګري ته اُوخيژي. بوډۍ دا بيماري برداشت نه كړے شوه او ساه ئې اُوختله. څه ورځې پس ''مَيرى'' د خپلې مور سامان وړلو د پاره اُولډ هاؤس ته راغله ، هغې د هغه ځائے د نوكرې نَينسي ډيره شكريه ادا كړه څكه چې هغې د آخِره وخته پورې د هغې د بوډۍ مور خدمت كړے وو، نَينسي ځوانه وه او ډيره خدمت ګزاره هم وه، په دې وجه ''مَيرى'' هغې ته د ډيرې تنخواه لالچ وركړو او د خپل كور د خدمت د پاره ئې ورته د تلو اُووئيل. **نَينسي** ورته د پيغور په انداز كښې اُووئيل چې: ستاسو كور ته به ضرور ځم، خو

اوس نه، چې کله ستا لور اِلزبتھ تا دې اُولډ هاؤس ته د اوسيدو د پاره راولي نو زه به بيا د هغې د خدمت د پاره د هغې سره ځم.

## په اُولډ هاؤس کښې اوسيدونکو د دوو پاکستاني بُوداګانو فرياد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دا خو د يو غير مسلمه خاندان واقعه وه، او دا چې تاسو اوريدلې وې نو عجيبه غونډې به هم درته **محسوسه** شوې وې. خو [دا څه نوې خبره نه ده بلکه] په غير مُسلم ملکونو کښې ګڼ شمير اُولډ هاؤسونه موجود دي. خو افسوس دا دے چې مسلمانانو هم د هغوئي نه دا کار زده کړو او اوس په اسلامي ملکونو کښې هم تر دې چې په پاکستان کښې هم دا [اُولډ هاؤس] شروع شوي دي! د **دعوتِ اسلامي** په عالَمي مدني مرکز فيضانِ مدينه کښې په 16 ربيع الاوّل شريف 1432ھ (19 .2 .2011) د پوخ عمر د کسانو (يعني د بوډاګانو) **مَدَني مذاکره** وه چې په هغې کښې د ټول مُلك نه په زرګاؤ سپين ګِيري مَشَران شريك شوي وو، او دا **مَدَني مذاکره** په "**مَدَني چينل**" باندې براهِ راست ټيلي کاسټ (TELECAST) [يعني ښودلې] شوې هم وه. په يو پاکستاني اُولډ هاؤس کښې اوسيدونکو دوو کمزورو مشرانو په **ډير غمګين** انداز کښې اسلامي ورونړو ته خپل درد بيان کړو او په اُولډ هاؤس کښې د پريښودو په وجه ئې د خپلو عزيزانو [يعني د خپل کور د کسانو] په باره کښې سخت افسوس او خفګان ښکاره کړو او اوئې وئيل چې مونږه غوارو چې زمونږ د خاندان والا مونږه بيرته کور ته بوځي مونږه دلته ډير خفه يو. هائے! افسوس! **هغه اولاد** څومره احسان فراموشه بيکاره او نالائقه دے چې په وړوکوالي کښې د مور او پلار له طرفه شوي ټول احسانونه هير کړي او [د هغوئي] په بوډاوالي کښې د هغوئي خِدمت کول پريږدي. حالانکه په بوډاوالي کښې خو هغوئي بے وسو ته د همدردئ زيات حاجت وي. **اسلامي ورونړو**! تاسو وَعده اوکړئ چې که هر څه اوشي مور او پلار به ټول عُمر د ځان سره ساتو او د هغوئي په خدمت کولو به د جنت حقدار جوړيږو. اِنْ شَآءَاللّٰه. يقين اوکړئ چې د **مور او پلار** حقونه ډير زيات دي او د دې نه بَري کيدل هډو کيدے نه شي. چنانچه [واورئ]

## مور ئې په اُوګه کړې په تودو کاڼو 6 مِيله....

يو صحابي رضی اللہ عنہ په بارګاهِ نبوي کښې عرض اوکړو چې: په يوه لار کښې داسې **تاوده کاڼي** وو چې

که د غوښي ټکړه په هغو اچولے شوے وے نو کباب شوے به وے! ما خپله مور په شپږ سوره کړې [په هغه لار] شپږ مِیله پورې وړې ده، آیا [په دې خِدمت] زه د مور د حقونو نه آزاد شوے يم؟ سرکارِ نامدار صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم اُوفرمائیل: ستا په پیدا کیدو کښې چې د درد څومره څړیکې هغې وهلې [یعني برداشت کړې] وې شائِد دا په هغو کښې د یوې څړیکې بدله شي. (المُعجم الصغیر للطبراني، الجزءُ الاوّل ص92 حدیث257)

## د حمل تکلیفونه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! واقعي مور د خپل بچي د پاره سخت تکلیفونه برداشت کړي وي، دردِ زِه یعني د بچي د پیدا کیدو (DELIVERY) په وخت کښې کیدونکي درد باندې صرف مور پوهیږي. د نارینه د پاره څومره آساني ده چې د هغه ډِلِیوري [یعني د خپلې خیټې نه اولاد] نه کیږي. **اعلیٰ حضرت، امامِ اَهلِسُنَّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلَّت، مَولانا شاه امام احمد رضا خان** رحمۃُاللہ علیه په فتاوٰی رضویه (**جلد**27) صفحه 101 کښې فرمائي: د نارینه تعَلُّق صرف د مزې اخستلو پورې دے او زنانه د سوونو مصیبتونه سره مخامخ وي، نهه میاشتې ئې په ګیډه کښې ساتي چې ګرځیدل، پاڅیدل کښیناستل ورته ګران وي، بیا د پیدائِش په وخت کښې خو د هرې جټکے په وجه د مرګ سره مخامخ وي، بیا د قِسما قِسم دردونو په وجه د نِفاس والا (یعني د پیدا کیدو نه پس د وِینې په تکلیف کښې د اخته کیدو والا زنانه) خوب اُوتښتي. ځکه (اللہ پاک) فرمائي:

حَمَلَتۡهُ اُمُّهٗ كُرۡهًا وَّ وَضَعَتۡهُ كُرۡهًا ؕ وَ حَمۡلُهٗ وَ فِصٰلُهٗ ثَلٰثُوۡنَ شَهۡرًا ؕ (پ26 الاحقاف 15)

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغه مور هغه په ګیډه کښې په تکلیف سره اوساتلو او په تکلیف سره ئې اوزیږولو، او د هغه د حمل او د هغه د پئیو نه د پریک کولو موده دیرش میاشتې ده.

نو د هر ماشوم په پیدائِش کښې زنانه ته کم نه کم درې کاله سره د مشقّته د جیل سزا ده. (فتاوٰی رضویه ج27 ص101)

## ډرائیور د مرګ نه بچ شو

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د سُنتونو زده کولو او ښودلو د پاره او په دې باندې د عمل زیاتولو، خپل ځان د سُنتو نمونه جوړَوَلو د پاره او د نیکئ دعوت عام کولو د پاره د **دعوتِ اسلامي** دِیني ماحول کښې هر وخت شامل اوسئ، د خپل ایمان د حفاظت دپاره فکرمند اوسئ، د لمونځونو پابندي

جاري ساتئ، په سُنّتو عمل کول جاري ساتئ د "**نیک اعمال**" مطابق ژوند تیروئ او په دې باندې د استقامت حاصلولو دپاره روزانه د خپلو اعمالو د "جائزه" اخستلو په ذریعه د "**نیک اعمال**" رساله کښې خانے ډکوئ او د هرې میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے د دعوتِ اسلامي ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ. او د خپل دې مَدَني مقصد چې "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح کوشش کول دي**" د حاصلولو د پاره هره میاشت پابندئ سره کم از کم درې ورځې د سُنَّتو تربِیَت ورکوونکې **مَدَني قافله** کښې **عاشقانِ رَسُول** سره د سُنَّتو ډک سفر کوئ. راځئ چې ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره تاسو ته یو **مدني سپرلے** واوروو چنانچه د **کراچۍ** د علاقے نیا آباد د یو اسلامي خور د حَلفِیه [یعني په قَسَم سره د] بیان خلاصه ده چې: زما ورور د عرب شریف په ښار "ریاض" کښې د ډرائیور په حیثیت کار کولو. یوه ورځ د ډرائیونګ په دوران کښې د هغه خطرناکه حادثه اُوشوه او هغه بیهوشه شو. **دِماغي زخمونه** ئې دومره زیات وو چې د پاتې کیدو څه اُمِّید ئې نه وو. مونږه مجبوره وو د هغه د لیدلو د پاره هم نه شو تللے. اَلْحَمْدُلِلّٰه ما به د عاشقانِ رسول دیني تحریک **دعوتِ اسلامي** د اِسلامي خویندو په هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې شرکت کولو. ما د خپل ورور پریشاني د خپلې علاقے یوې اسلامي خور ته اُووئیله. هغې ما ته دلاسه راکړه او مشوره ئې راکړه چې هم دغه رنګ په پابندئ سره په اجتماع کښې شرکت کوه او ډیرې ډیرې **دُعاګانې** کوه. چنانچه ما هم دغسې اوکړل. اَلْحَمْدُلِلّٰه په اجتماع کښې د کیدونکو **دُعاګانو** په برکت په درې میاشتو کښې دننه دننه زما ورور خبرې شروع کړې. ډاکټران هم حیران وو ځکه چې د **دماغو زخمونه** ئې ډیر زیات وو او په ښکاره ئې د بچ کیدو اُمِّید ډیر کم وو، اَلْحَمْدُلِلّٰه د اجتماعاتو په برکتونو زما عقیدت نور هم زیات مضبوط شو.

اے اسلامی بہنو! نہ مایوس ہونا — تمہیں خیر دیگا دِلا دِینی ماحول
تُو پردے کے ساتھ اجتماعات میں آ — تِری دیگا بگڑی بنا دِینی ماحول

اے اسلامي خویندو! مه مایوسه کیږئ — دربه کړي تاسو ته خیر دِیني ماحول
ته راځه اجتماعاتو ته پرده کښې — وران کارونه به دې سم کړي دِیني ماحول

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## دَ سُنَّتو ډکه اجتماع کښې رحمتونه نازليږي

اَلْحَمْدُلِلّٰه د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې غوښتونکې دُعاګانې ضرور رنګ راوړي، **حضرت** سَيِّدُنا امام سُفيان بِن **عُيَيْنَه** رَحمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: عِنْدَ ذِكْرِ الصّٰلِحِيْنَ تَنَزَّلُ الرَّحمَةُ يعني د نيکو خلقو د ذِکر [يعني يادولو] په وخت کښې د **الله** پاک رحمت نازليږي. (حِليةُ الاولياء ج7 ص335 رقم 10750)

چې د نيکانو خلقو د يادولو په وخت کښې رحمتونه نازليږي نو په کومه اجتماع کښې چې د **الله** پاک او **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير کيږي هلته به رحمتونه ولې نه نازليږي او کوم ځائے کښې چې بيشميره رحمتونه راوريږي هلته به دُعاګانې ولې نه قبليږي. د **دعوتِ اسلامي** د **مَکْتَبَةُ الْمَدِينه** د 743 صفحو کتاب ''**جنَّت ميں لے جانے والے اعمال**'' صفحه 422 کښې دي: حضرت سَيِّدُنا ابوهُريره او حضرت سَيِّدُنا ابوسعيد رَضِىَ اللهُ تَعالٰى عَنْهُمَا فرمائي چې مونږ دواړه د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمتِ اَقدَس کښې حاضر وو چې **رَسولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: کوم قوم چې د **الله** پاک د ذِکر کولو د پاره کښيني فرښتے د هغوئي نه چاپيره شي او رحمت هغوئي پټ کړي او په هغوئي سکينه (يعني سکون) نازليږي او **الله** پاک هغوئي د خپلو فرښتو په مخکښې يادوي. (صحيح مُسلم ص1448 حديث 2700)

## ذِکر څه ته وائي؟

**د** ''**اَلـلّٰـه هُو**'' او د ''**حق هُو**'' ضربونه لګول بيشکه ذِکر دے. خو د قرآنِ مجيد تِلاوت، حمد و ثناء، مُناجات و دُعا، درود و سلام، نَعت ومَنقَبَت، خُطبه، درس، د سُنَّتو ډك بيان وغيره هم ''**ذِکرُ الـلّٰـه**'' کښې شامل دي. لِهٰذا د **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډك اِجتماعات هم د ذِکرحلقے دي.

سارے عالَم کو ہے تیری ہی جستجو
جنّ واِنس و مَلَک کو تری آرزو
یاد میں تیری ہر ایک ہے سُوبَسُو
بَن میں وَحشی لگاتے ہیں ضَرباتِ ھُو

ټـول عـالَـم غواړي صرف سـتا رضا
پيرے، انسان، فرښته ټول لري آرزو سـتا
هر يو ناست، ولاړ دے په ذِکر کښې سـتا
په ځنګل کښې وَحشيان هم يادوي تا

اَللّٰہُ اَللّٰہُ اَللّٰہُ اَللّٰہُ

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**یا رَبِّ مُصطفٰی!** زمونږه بے حِسابه بخښنه اوکړې. مونږه ستا او ستا د حبیب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په **محبت** کښې ژوندي لرې، تر څو پورې چې ژوندي اوسو په سُنَّتو د عمل کولو توفيق راکړې، او چې کله مړه کيږو نو د مدينے په زمکه، د گنبدِ خضراء په يخ يخ سُوري کښې [داسې مرګ راکړې چې] د سترګو مخې ته مو د خوږ محبوب صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظارے وي او په ژبه مو دا کَلِمهٔ طيّبَه وي چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) په جَنَّتُ البَقيع کښې خښيدل او په جنّتُ الفردوس کښې د خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

یا خدا جسم میں جب تک کہ مری جان رہے
تجھ پہ صدقے ترے محبوب پہ قربان رہے
کچھ رہے یا نہ رہے پر یہ دعا ہے کہ امیرؔ
نزع کے وقت سلامت مرا ایمان رہے

اے خدايا چې تر څومې سلامت ځان وي
زما ځان دې په تا او ستا په محبوب قربان وي
که څه راسره وي او که نه بس دا دُعا ده د اميرؔ
په وخت د ځنکدن چې مې سلامت ايمان وي

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# مور و پلار سره د ښه سلوک انعام

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: څوک چې د اُوګد عُمر او د رزق د فراخئ خواهش لري هغه ته پکار دي چې د مور و پلار سره ښه سلوک او صلهٔ رِحمي کوي.

(مُسند امام احمد، 4584، حديث: 13400)


فيضانِ مدينه، محلّه سوداګران، زړه سبزي منډهي کراچئ

UAN: +92 21 111 25 26 92 I Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com I E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com